# يقالُ لصاحبِ القرآن: اقرَأ وارتَقِ، ورتِّل كما كُنْتَ ترتِّل في الدُنيا، فإن منزِلَكَ عندَ آخرِ آية تقرؤها». «د قرآن ښتن - حافظ، لوستونکي او پرې عمل کوونکي - ته به وويل شي: لوله، او پورته ختږه، يقينا چې ستا مقام د وروستني آيت سره دی چې ته به يې لولې

له عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما څخه روايت دی وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «يقالُ لصاحبِ القرآن: اقرَأ وارتَقِ، ورتِّل كما كُنْتَ ترتِّل في الدُنيا، فإن منزِلَكَ عندَ آخرِ آية تقرؤها». «د قرآن ښتن - حافظ، لوستونکي او پرې عمل کوونکي - ته به وويل شي: لوله، او پورته خېژه، يقينا چې ستا مقام د وروستني آيت سره دی چې ته به يې لولې».

[حسن] [ابو داود، الترمذي او النسائي په الکبری کې او أحمد روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې کله د قرآن لوستونکی- قاري؛ چې په قرآن يې عمل کړی وي، په تلاوت او حفظ سره يې د قرآن ملګرتيا کړې وي - جنت ته داخل شي نو ورته به وويل شي چې: قرآن لوله او په لوستلو يې د جنت په درجو کې پورته خېژه، او داسې په غور او ورو سره يې لوله لکه څنګه دې چې په دنيا کې په غور او ورو سره لوسته، يقينا چې ستاسو مقام او ځای وروستني آيت سره دی چې ته يې لولې.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65054